هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش		شماره مسلسل (۲۷۸) ماه ذوالحجة‌الحرام ۱۴۴۵ هـ ق  مطابق جوزا ۱۴۰۳ هـ ش


**د پوهنې وزارت ژمن دی چې د هېواد نوی نسل په اسلامي روحیه وروزي.**

## د پوهنې وزارت سرپرست روسیې هېواد ته په رسمي سفر لاړ

د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا ، د پوهنې د وزیرانو په دوهم نړیوال څلور ورځني فورم کې د ګډون په موخه په رسمي سفر د روسیې د کازان ښار ته لاړ.
په یاد فورم کې به د پوهنې وزارت سرپرست د افغانستان د ښوونیز وضعیت، لاسته راوړنو ، فرصتونو او ننګونو په اړه تفصیلي وینا وکړي او هم به د بېلابېلو هېوادونو د پوهنې له وزیرانو سره لیدنې کتنې تر سره کړي.




روش های درست مطالعه
صفحه سوم

سه قدم برای یک زندگی شاد
صفحه سوم

څنګه؛ هر څه ژر زده کړو؟
۳ مخ


سرلیکنه

## له علم او پوهې سره د ولس پراخ ملاتړ روښانه راتلونکې ته هیلې زیاتوي

علم او پوهه هغه مشعل ته ورته دی چې یو انسان د هغې په وسیله کولای شي په تورو تیارو او کړلیچونو کې نېغه لار و مومي او د کړنګونو له لوېدو څخه ځان وژغوري، پدې کې شک نشته هغه هېوادونه او ټولنې چې د هغه وکړي د علم په ګانه سمبال دي له علم او پوهې یې ملاتړ کړی نن ورځ د هوساینې او ښېرازۍ تر لوړو پوړونو رسېدلي د همدې علم او پوهې په وسیله یې هم ځان هوسا کړی او هم یې راتلونکو نسلونو ته د هوسا ژوند میراث پرېښی.
په اوسنۍ نړۍ کې ګورو هغه ټولنې او هېوادونه چې علم او پوهې ته پاملرنه کوي د پوهنې ستنې یې د هرې ورځې په تېرېدو سره لا پیاوړې کړي، د اقتصادي ، سیاسي او نظامي ځواکمنتیا له پلوه د هغه هېوادونو په کتار کې شمېرل کېږي چې د نړۍ په اړه یې پرېکړې مهمې بلل کېږي او د هغوی پرېکړې د نړۍ په کچه خپل اغېز لري...
۲ مخ

## په ولایتونو کې د پوهنې ریاستونو د مالي څانګو کارکوونکو سیمینار په لار واچول شو

پوهنې وزارت له لوري د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د مالي څانګو کارکوونکو ته د پوهې په برخه کې د دوی د علمي کچې لوړولو په موخه، د یاد وزارت د کنفرانسونو په تالار کې درې ورځنی سیمینار په لار واچول شو.
د یاد سیمینار د پرانیستې په مراسمو کې د پوهنې وزارت د سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا،سربېره یو شمېر مرکزي رئیسانو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو مالي څانګو مسئولینو ګډون درلود.
د سیمینار په پیل کې د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا د موضوع په اړه خبرې وکړې او د سیمینار له ګډون والو یې وغوښتل، چې د بیت المال په ساتنه، د مالي لګښتونو او نورو اداري او تخنیکي وسایلو په کارولو کې جدي پاملرنه وکړي، تر څو هېواد او ټولنې ته په صادقانه توګه د خدمت جوګه شي.
۲ مخ

## ساخت ۲۵ باب کتابخانه به ارزش بیش از ٦ میلیون افغانی در مکاتب ولایت نورستان

ریاست معارف ولایت نورستان از ساخت کتابخانه ها در شماری از مکاتب این ولایت به همکاری یک نهاد همکار با معارف خبر داده است.
در خبرنامه یی که از سوی ریاست معارف نورستان نشر شده آمده است: به کمک مالی یک نهاد حمایت کننده معارف در آن ولایت مجموعاً برای ۲۵ باب مکتب در ولسوالی های واما، کانتیوا و شهر پارون مرکز آن ولایت کتابخانه های مجهز ساخته و تجهیز شده است.
در این خبرنامه به نقل از مولوی تاج محمد مطمئن رئیس معارف ولایت نورستان آمده است که نهاد یاد شده برای کتابخانه های مکاتب در ولسوالی های یاد شده حدود ۵۵۰۰۰ جلد کتاب های علمی و معلوماتی و ۷۵ پایه الماری به هدف نگهداری کتاب ها
صفحه ۲



## ایجاد یک باب مدرسه دینی مجهز از سوی وزارت معارف در ولایت پنجشیر

الحاج مولوی سخاءالله سعید معین تعلیم و تربیه وزارت معارف که در راس یک هیئت رسمی این وزارت به هدف تعیین مکان مناسب جهت تاسیس یک باب مدرسه مجهز با لیلیه دارای ظرفیت ۲۰۰ تن شاگرد و بررسی امورتعلیمی و تربیتی، وارد ولایت پنجشیر شده بود با مفتی حبیب الله نوری قتاده رئیس و مسئولین ریاست معارف پیرامون موضوعات مرتبط به تعلیم و تربیه و فعالیت های مکاتب و مدارس صحبت نموده، متعاقبا با حضور داشت و مشوره شیخ قیام الدین حنیف رئیس شورای علمای ولایت یاد شده و سایر مسئولین، محل مناسبی را به منظور احداث یک باب مدرسه دینی و لیلیه آن انتخاب نمودند.



معین تعلیم و تربیه وزارت معارف در سخنانی از پلان ها و برنامه های تعلیمی این وزارت یاد آور شده، تصریح کرد: ما علاوه از عرضه خدمات تعلیمی، به سایر سهولت های رفاهی برای شاگردان نیز تلاش می نمائیم.
در مقابل رئیس معارف و چند تن از علماء به نمایندگی از دیگران از این اقدام نیک رهبری وزارت معارف اظهار امتنان و قدردانی نمودند.

## افتتاح تعمیر یک باب مکتب در ولایت غزنی

کار ساخت تعمیر ابتدائیه توچی در ولسوالی قرباغ ولایت غزنی تکمیل و طی مراسمی با اشتراک رهبری ریاست معارف، علمای جید و متنفذین محل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.
مسئولین معارف ولایت غزنی می گویند: ساختمان این مکتب حدود ۱.۳ میلیون افغانی هزینه برداشته که از سوی اشخاص خیر و ساکنان معارف دوست ولسوالی یاد شده پرداخت گردیده است.
آنان اضافه کردند که مکتب یادشده، در چهار جریب زمین اعمار شده که دارای ٦ صنف درسی، یک شعبه اداری، سیستم برق، چاه آب، میدان ورزشی و سایر ملحقات آن بوده که در یک زمان گنجایش ۳۰۰ شاگرد را دارا می‌باشد.
رهبری وزارت معارف همواره از حمایت و همکاری های هموطنان ما با معارف و به خصوص از کمک های مردم ولایت غزنی به معارف استقبال و ابراز امتنان می نماید.



## اهدای زمین برای ساخت یک باب مدرسه در ولایت بغلان

الحاج مولوی محمد نور عزیزی رئیس معارف ولایت بغلان همراه با مولوی لعل جان راشد رئیس دفتر مقام ولایت، ضمن سفر کاری به ولسوالی بغلان مرکزی، در مراسم فراغت شاگردان « مدرسه شیخ یار محمد » در روستای تغر آن ولسوالی اشتراک نموده و از اهدای زمین برای اعمار تعمیر مدرسه متذکره نیز خبر دادند.

رئیس معارف ولایت بغلان گفت: ملا احسان الله عابد یک تن از معارف دوستان محل موازی ۳ عشاریه ۵ جریب زمین شخصی خویش را برای اعمار تعمیر یک باب مدرسه بنام « مدرسه شیخ یار محمد » وقف کرده است.

موصوف وعده نمود که ریاست معارف بغلان درنظر دارد تا در همکاری با وزارت معارف و نهادهای خیریه، کار ساخت و ساز تعمیر این مدرسه را به زودی آغاز نماید.

سخنرانان و علمای دینی نیز در مورد ارزش دنیوی اعمار مکان های آموزشی صحبت کرده، از سرمایه داران و تجار ملی آن ولایت خواستند تا در اعمار تعمیر مدارس و مکاتب وزارت معارف را همکاری نمایند.

## ساخت یک باب مکتب ابتدائیه از سوی مردم در بدخشان

اهالی علم دوست ولسوالی یاوان ولایت بدخشان با هزینه شخصی خود یک باب مکتب ابتدائیه را اعمار نمودند.

این ساختمان نداشته و شاگردان آن در فضای باز مصروف آموزش بودند.

با این حال الحاج مولوی نصرت الله فیضانی



این مکتب در مساحت سه جریب زمین با هزینه ۶۰۰ هزار افغانی در قریه «یاصف» ولسوالی یاد شده، اعمار شده است.

مکتب متذکره دارای ۶ صنف درسی با سایر ملحقات آن بوده که با اعمار آن برای ۳۵۰ تن شاگردان ولسوالی متذکره خدمات آموزشی فراهم گردید.

قابل ذکر است که مکتب یاد شده پیش از

رئیس معارف بدخشان وعده داد که ریاست معارف آن ولایت در قسمت ساخت دیوار احاطوی، تامین آب صحی و سایر سهولت ها همکاری خواهد نمود.

رهبری وزارت معارف کمک های مردم معارف دوست کشور و بالاخص اهالی ولسوالی یاوان ولایت بدخشان را به دیده قدر نگریسته و از آن استقبال می نماید.

## په ولایتونو کې د ....

وروسته د پوهنې وزارت د مالي او حسابداری برخې کارپوهانو د معاشونو د ورکړې په سیستم کې د رامنځته شویو بدلونونو او اصلاحاتو په اړه ګډون والو ته معلومات ورکړل او دغه بدلونونه یې په اساسي ډول د سلایډونو په ښودلو سره تشریح کړل.

د غونډې ګډون والو هم د دغه ډول ښوونیزو پروګرامونو هرکلی وکړ او هغه یې د مسلکي پوهې په لوړولو کې خورا اغېزمن وبلل.

## له علم او پوهې د....

همدې اصل ته په پام سره ویلای شو چې زموږ ګران هېواد افغانستان چې د کلونو کلونو جګړو او د ښکیلاک ګرو د ښکیلاک له امله په وجود ټپي دی، ددې ټپونو د جوړېدو یوازینی لار په هېواد کې د تعلیمي بنسټونو پیاوړتیا او ورته پاملرنه ده تر څو په راتلونکي کې د علم او پوهې په ګانه سمبال نسل تولنې ته وړاندې کړو او د علم په لاسته راوړلو سره خپل هېواد د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې راولو.

له نېکه مرغه په افغانستان کې داسلامي امارت تر واکمنېدو را پدېخوا د هېواد د سیاسي او اقتصادي پرمختګونو تر څنګ په هېواد کې د علم او پوهې ودې ته تر هر وخت زیاته پاملرنه شوې ده. د پوهنې وزارت مشرتابه په هېواد کې د دیني او عصري زده کړو وده خپل مسئولیت بولي او پدې برخه کې په دومره پراخه کچه کار شوی چې په تېرو کلونو کې یې ساری نه لیدل کېږي. په هېواد کې د دیني او عصري زده کړو لمن د هرې ورځې په تېرېدو سره د غوړېدو په حال کې ده او د پوهنې وزارت د هېواد هرې برخې ته د علم او پوهې د رسولو تر څنګ د علم او پوهې د کیفیت په برخه کې هم کار کوي او پدې اړه یې ښې لاسته راوړنې درلودلي دي، د پوهنې وزارت په ټول توان هڅه کوي چې هېوادوالو ته داسې ښوونیز نظام را منځ ته کړي چې د اوسني عصر له غوښتنو سره اړخ ولګوي. دا چې مخکې مو یادونه وکړه چې د علم او پوهې له شتون پرته پرمختګ شونی نه دی نو لازمه ده چې د علم او پوهې د ودې او پرمختګ لپاره ټول متې راونغاړو او یو بل ته لاسونه سره ورکړو تر څو په راتلونکي کې د یوه پرمخ تللي او باثباته افغانستان شاهدان وو. دا چاره هغه وخت ممکنه ده چې د علم د ودې لپاره ټول وګړي د مسئولیت احساس وکړي او دا مسئولیت د پوهنې په وزارت پورې منحصر نه کړي. له نېکه مرغه چې په افغانستان کې د اسلامي امارت تر واکمنېدو را پدیخوا د نړېدي درې کلونو په اوږدو کې په هېواد کې په زرګونه دیني مدرسې او د عصري زده کړو ښوونځي جوړ شوي او پدې سره د هېواد په میلیونونو وګړو ته د دیني او عصري زده کړو زمینه برابره شوې ده. د یادو ښوونځیو او مدرسو په جوړولو کې د پوهنې وزارت سره ولسي وګړو پوره مرسته کړې او دا لړۍ لا هم روانه ده، دا کړنه ددې ښکارندویه ده چې افغانان سوله غوښتونکي په خپل دین او هېواد مین او د علم او پوهې کلک ملاتړي دي. له نېکه مرغه هره ورځ د هېواد له کوټ - ګوټ څخه خبرونه رارسېږي چې ولسي وګړو د معارف سره د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو لپاره خپلې ځمکې وقف کړي، چا مالي ملاتړ کړی او یا هم د نورو درسي توکو مرسته یې د ښوونځیو او مدرسو له زده کوونکو سره کړې. دا چې افغانان د نړۍ په کچه بااستعداده او نوښتګر خلک پېژندل کېږي خو له بده مرغه چې د تېرو کلونو ناخوالو او جګړو له امله دوی ته د خپلو استعدادونو د ودې زمینه نده برابره شوې زموږ ډېر استعدادونه یا تر خاورو لاندې شوي یا هم د هېواد پرېښودو ته اړ شوي او ددوی له استعدادونو نورو هېوادونو ګټه پورته کړې. خو لله الحمد چې اوس مو هېواد کې سوله راغلې او اسلامي نظام حاکم دی تر بل هر وخت د علم او پوهې زده کړې ته زمینه برابره ده او له نېکه مرغه زړه سوانده حاکمان مو دې اصل ته تر هر څه ډېره پاملرنه کوي لیرې نه بریښي چې د علم او پوهې کاروان به مو د اوسنیو حاکمانو په ملتیا او د ولس په پولادي متو تر منزله رسېږي او ډېر ژر به مو هېواد د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

ان شاءالله

## ساخت ۲۵ باب کتابخانه ...

تهیه نموده است.

مسئولین در ریاست معارف ولایت یاد شده، ساخت و تجهیز کتاب خانه ها را با کتاب های علمی و دینی در مکاتب و اماکن عمومی جهت بلند بردن ظرفیت های علمی شاگردان، جوانان و دانش مسلکی مسئولین و معلمین با اهمیت بیان نموده، اذعان داشت که ریاست معارف به تأسی از پالیسی وزارت معارف در توسعه وگسترش نهادهای علمی و تربیوی همچنان تلاش نموده و به آن ادامه می دهد.

گفتنی است که مصارف مجموعی ساخت و تجهیز کتابخانه های یاد شده به ۶ میلیون و ۴۵ هزار افغانی میرسد.

## رئیس اسبق ریاست های شهادتنامه....

و در محوریت نظام تعلیمی کشور بحث‌های مفصل نمودند.

سرپرست وزارت معارف از برگشت رئیس سابق ریاست های شهادتنامه ها و شورای علمی این وزارت به کشور استقبال کرده، تصریح نمود: یگانه راه خود کفایی و ترقی کشور این است که علماء و دانشمندان ما تمام انرژی خویش را به هدف پیشرفت کشور خود به مصرف برسانند.

موصوف اضافه کرد: هر کس که در حوزه تعلیم و تربیه اولاد وطن با ما همکاری کند، ما از آن استقبال و سپاسگزاری می کنیم.

بالمقابل رئیس اسبق ریاست های شهادتنامه ها و شورای علمی وزارت معارف دستاورد ها و کارکرد های وزارت معارف را قابل ستایش دانسته و برای رهبری وزارت معارف وعده هرگونه همکاری را سپرد.

## دیدار سرپرست اداره ملی...

به کمک سایر ارگان های ذیربط، منجمله وزارت معارف تدابیر لازمی اتخاذ گردیده است.

متعاقبا سرپرست وزارت معارف تشریف آوری رئیس و مسئولین اداره ملی امتحانات را به وزارت معارف خیر مقدم گفته و ضمن تاکید بر شفافیت در پروسه امتحان کانکور، از زحمات و تلاش‌های اداره یاد شده در این راستا اظهار امتنان و قدردانی نمود.

سرپرست وزارت معارف به هیئت اطمینان داد که وزارت معارف کماکان در تمام بخش‌ها آماده همکاری با اداره ملی امتحانات می با شد .

## لنډ خبرونه

**غزني**

د پوهنې په برخه کې یو همکار بنسټ، د غزني ولایت رشیدانو ولسوالۍ اړوند د حسین خېلو لېسې لپاره د ۲ میلیونه او ۶۰۰ زره افغانیو په ارزښت، د ښوونیزو او اداري توکو مرسته وکړه.

د یو بل خبر له مخې د پوهنې وزارت له لوري د غزني ولایت خوګیانو ولسوالۍ اړوند په خواجه کلي کې د یو همکار بنسټ په مالي ملاتړ د ۱۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د خواجه کلي ښوونځي لپاره د ودانۍ د بنسټ ډبره د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه.

**بغلان، غزنی، جوزجان و نیمروز**

د پوهنې وزارت له لوري په غزني، بغلان، جوزجان او نیمروز ولایتونو کې د ځایي خلکو په مالي ملاتړ د شاوخوا ۳۰ میلیونه افغانیو په لګښت د ۳ بابه ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ جوړې او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

**پکتیا**

له پوهنې وزارت سره د یو همکار بنسټ مسئولینو ژمنه کړې چې پکتیا ولایت کې به د ۷۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۹ بابه ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ جوړې کړي.

**بامیان**

پوهنې وزارت د بامیان ولایت په یک ولنګ ولسوالۍ کې د ۳۰۰ تنه زده کوونکو تر منځ د امارت پېژندنې ستره سیالۍ تر سره کړه .

**هرات**

د پوهنې وزارت د یوه همکار بنسټ په مرسته د هرات ولایت په مرکز او انجیل ولسوالۍ کې د ښوونځیو ۳۶ زره او ۱۴۰ تنه زده کوونکو ته د بکسونو، کتابچو، قلمونو او نورو اړینو درسي توکو همداراز ددې ولایت په غوریان او کهسان ولسوالیو کې د ښوونځیو زده کوونکو او ښوونکو ته د ۳۵ زره او ۸۵۰ ډالرو په ارزښت د درسي توکو ویش پیل کړ.

د یو بل خبر له مخې په یاد ولایت کې دیني مدارسو او دارالعلومونو ته ۲۴ زره توکو درسي کتابونو دویش لړۍ پیل شوه.

**خوست**

د پوهنې وزارت له لوري د خوست ولایت په دیني مدارسو کې د ۱۳۰۰ تنه استادانو د ګمارلو په موخه له ګڼ شمېر نوماندانو څخه رقابتي آزموینه واخیستل شوه.

**بلخ**

د بلخ ولایت په مرکز مزار شریف ښار کې د یوې معارف دوسته کورنۍ په مالي مرسته د استاد وجدان لېسې احاطوي دېوال د ۲۹۰ زره افغانیو په لګښت جوړ او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

**کندز**

د پوهنې وزارت له لوري د کندز ولایت کلباد ولسوالۍ اړوند په کیله چي کلي کې د ښوونځي یو باب الحاقیه د پوهنې وزارت د مشرتابه په منظورۍ د ماشومانو لپاره جوړه او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شوه، چې کوټونه یې له ښوونځي څخه لرې او د زده کړو لپاره د مناسب ځای له نشتوالي سره مخ وو.

د یادونې وړ ده، چې د دغه الحاقیه ښوونځي په جوړېدو سره شاوخوا ۲۵۰ تنو زده کوونکو ته د زده کړو آسانتیا برابره شوه.

**لغمان**

د لغمان ولایت په مرکز کې د ځایي خلکو له لوري، پوهنې وزارت ته د ۹ سوه او ۴۵ زره افغانیو په ارزښت ۱۲ بسوې شخصي ځمکه د دوه بابه دیني مدرسو د جوړولو لپاره وقف شوه.

## ځنګه؛ هر څه ژر زده کړو؟

رفیع الله رفیع


**په لومړيو ۲۰ ساعتونو کې!**

څنګه؛ هر څه په ۲۰ ساعتونو کې ژر زده کړو؟ دا پوښتنه په لومړیو ۲۰ ساعتونو کتاب کې ځواب شوې: دا کتاب زموږ په ژوند کې تر ټولو مهمه هغه پوښتنه ځوابوي، چې موږ ورسره مخ کېږو او هغه دا ده:
څنګه په ۲۰ ساعتونو کې هر هغه څه، چې موږ او تاسو یې غواړو، ژر زده کړو؟
موږ ټول غواړو، چې ډېر مهارتونه زده کړو، خو نه پوهېږو، چې څنګه او کله؟
ولې ۲۰ ساعته؟ ځکه، چې ۲۰ ساعته د سکرېچ څخه تر ښې کچې پورې د هر هنر د زده کولو لپاره مناسب اوسط دی، دا موده د ډېرو تجربو




او څېړنو وروسته لیکوال جوش کاوفمن کشف کړه او د هر هنر د زده کولو لپاره تطبیق کېدای شي، هغه که فزیکي وي او که تخنیکي، لکه ورزشي لوبه ډیزاین، پروګرامېنګ، نوې ژبه او داسې نور.
د جوش کاوفمن په لومړیو ۲۰ ساعتونو کتاب کې د هر مهارت د زده کولو لپاره ۹ اصول ټاکل شوي، تاسو د هر نوي مهارت د زده کولو لپاره باید دا مهم ګامونه پورته کړئ.
۱ - په یوه مهارت تمرکز وکړئ. هغه مهارت، چې تاسو ته لومړیتوب لري او ترسره کول یې ډېر مهم وي، په هماغه مهارت تمرکز وکړئ، تر هغې، چې مو نه وي زده کړی/ترلاسه کړی، مه یې پرېږدئ.
۲ - مهارت په کوچنیو برخو ووېشئ، ترڅو په آسانۍ سره وګورئ، چې کوم شیان د دې مهارت په زده کولو کې درسره مرسته کوي.
۳ - تاسو باید هغه کچه وټاکئ، چې تاسو غواړئ د ۲۰ ساعتونو مودې په پای کې ورته ورسېږئ.
٤ - د زده کړې هغه سرچینې راټولې کړئ، چې تاسو سره د هغه مهارت په زده کولو کې مرسته کوي، چې تاسو یې غواړئ، مګر مه پرېږدئ، چې دا په زده کړه کې د خنډ او ځنډ لامل شي.
٥ - د هنر زده کولو لپاره هغه وسایل چمتو کړئ، چې تاسو ورته ارتیا لری.
٦ - له ګډوډۍ، تشویشونو او هر هغه څه څخه ځان وساتئ، چې د مهارت زده کولو لپاره ستاسو د ژمنتیا مخه نیسي.
۷ - هره ورځ د ورزش کولو لپاره وخت و ټاکئ.
۸ - د هر هغه مهارت له زده کولو وروسته، چې تاسو یې زده کوئ، ځان و ازمایئ.
۹ - په دې تمرکز وکړئ، چې د مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره څومره معلومات ترلاسه کوئ او څومره ژر یې ترلاسه کوئ.
د لومړیو ۲۰ ساعتونو کتاب په ټوله کې دا در زده کوي، چې که د یو کار د ترسره کولو لپاره د وخت په موندلو تکیه وکړئ، هغه کار به هېڅکله ترسره نه شي، که غواړئ وخت ومومئ، تاسو باید وخت پیدا کړئ.
ستونزه هغه وخت رامنځته کېږي، چې موږ مهارت ترلاسه کول د مهارت له زده کولو سره ګډوډ کړو، که تاسو غواړئ نوی مهارت زده کړئ، تاسو باید په هر ډول شرایطو کې تمرین وکړئ، مګر که فعالیت ډېر مهم وي، بیا یوازې زده کړه کافي نه ده.

## روش های درست مطالعه



در جایی ساکت و آرام درس بخوانید تا چشمان‌تان موضوعات متفرقه را نبیند مثلا پشت پنجره درس نخوانید.
حتما پشت میز درس بخوانید که بتوانید هنگام درس خواندن زیرنکات مهم خط بکشید و یا یاداشت برداری کنید.
قبل از درس خواندن، مبدا و مقصد زمانی مطالعه را روشن کنید مثلا از ساغت ۹ تا ۱۰ درس می خوانم همچنین حجم را هم مشخص کنید مثلا از صفحه ۱۰ تا ۳۰.
جهت نتیجه گیری بهتر هنگام مطالعه ابتدا موضوع را بررسی اجمالی کنید.
اگر در هنگام مطالعه موضوعی مرتبا ذهن تان را درگیر می کند. دفترچه یاداشتی کنار دست تان داشته باشید و موضوع مزاحم را یادداشت کنید.

## مغروره انسان

لقمان حکیم وایي، یوه ورځ د غنمو په کښت کې ولاړ وم، د غنمو ځینو وږو په غرور سره سرونه جګ نیولي وو، ځینو وږو بیا سرونه له عجز څخه کښته ځوړند کړي وو؛ دې حالت زما توجه ور جلب کړه، کله مې چې وږي په لاس کې لمس کړل، جالبه راته ښکاره شوه؛ هغه وږي چې سرونه یې جګ نیولی وو، له غنمو څخه خالي وو، هغه وږي چې سرونه یې ښکته کړي وو، له غنمو څخه ډک وو؛ له ځانه سره مې وویل ژوند په کښت کې هم هغه سرونه چې جګ وي په حقیقت کې خالي دي **موخه**: مغروره انسان همیشه پوچ مغزه وي، یوازې پر خپل عقل حساب کوي، پوهان همېشه حلیم او دروند خصلته وي. ښاخ چې له مېوې ډک شي، سر کښته کوي، خو خالي ښاخونه له آسمان سره خبرې کوي.

### د خوشحالۍ لپاره خپل سکون مه خرابوئ

ځکه خوشحالي د خوښو خاطرو مجموع ده او سکون په عملونو پورې اړه لري، که عمل مو ښه وي تر اخیره به په سکون کې وي..

## دو دوست

دو دوست با پای پیاده از جاده ای در بیابان می گذشتند. آن دو در نیمه های راه بر سرموضوعی دچار اختلاف نظر شدند و به مشاجره پرداختند و یکی از آنان از سر خشم، برچهره دیگری سیلی زد. دوستی که سیلی خورده بود سخت دل آزرده شد، ولی بدون آنکه چیزی بگوید بر روی ریگ های بیابان



نوشت: «امروز بهترین دوست من، بر چهره ام سیلی زد.» آن دو در کنار یکدیگر به راه خود ادامه دادند تا آن که در وسط بیابان به یك آبادی كوچك رسیدند و تصمیم گرفتند قدری بمانند و در بركه آبتنی كنند. اما شخصی كه سیلی خورده بود در بركه لغزید و نزدیك بود غرق شود، كه دوستش به كمك شتافت و نجاتش داد. او بعد از آنكه از غرق شدن نجات یافت، بر روی صخره سنگی نوشت: «امروز بهترین دوستم جان مرا نجات داد». دوستی كه یك بار بر صورت او سیلی زده و بعد هم جانش را از غرق شدن نجات داده بود پرسید: «بعد از آنكه من با حركت قبلی‌ام ترا آزرده ساختم، تو آن جمله را بر روی ریگ های صحرا نوشتی، اما اكنون این جمله را بر روی صخره سنگ حك كرده ای، چرا»؟ دوستش در پاسخ گفت: «وقتی كه كسی ما را می آزارد، باید آن را بر روی ریگ ها بنویسیم تا بادهای بخشوده گی آن را محو كند، اما وقتی كه كسی كار خوبی برایمان انجام می دهد، ما باید آن را بر روی سنگ حك كنیم، تا هیچ بادی هرگز نتواند آن را پاك نماید».

## سه قدم برای یک زندگی شاد



۱. خود را به خاطر افراد بی فایده ای که لایق داشتن هیچ جایگاهی در زندگی تان نیستند، دچار استرس نکنید.
۲. هیچگاه احساسات خود را، بیش از حد صرف چیزی نکنید، چون در غیر این صورت صدمه خواهید دید.
۳. بیاموزید بدون نگرانی زندگی کنید، چون خدا در همه حال هوایتان را خواهد داشت. فقط اعتماد کنید و ایمان داشته باشید.

## لس سترې تېروتنې

۱- چاته خپل راز ویل او بیا پرې د ساتلو ټینګار کول .
۲- په دې نیت ګناه کول چې یو څو ځله به یې وکړم او بیا به یې پرېږدم .
۳- خپلو عوایدو څخه زیات مصرف کول او بیا د غیبي مرستې اُمید لرل .
۴- د یو چا ظاهري ښه لیدل او بیا پرې قضاوت کول .
۵- د والدینو خدمت نه کول او له خپل اولاد څخه د خدمت طمع لرل .
۶- کوم کار چې خپله نشي کولی د نورو په اړه هم غیر ممکن فکر کول
۷- کار نه کول او د ښه راتلونکي خوبونو لیدل.
۸- خپلوان پریښودل او په پردیو اعتماد کول.
۹- د خپل ځان په اړه تر ټولو د هوښیار فکر کول .
۱۰- د خلکو عزت احترام نه کول او له هغوی څخه د احترام توقع درلودل.

## مغرور انسان تل پوچ مغزه وي

لقمان حکیم وایي، یوه ورځ د غنمو په کښت کې ولاړ وم، د غنمو ځینو وږو په غرور سره سرونه جګ نیولي وو، ځینو وږو بیا سرونه له عجز څخه کښته ځوړند کړي وو؛ دې حالت زما توجه ور جلب کړه، کله مې چې وږي په لاس کې لمس کړل، جالبه راته ښکاره شوه؛ هغه وږي چې سرونه یې جګ نیولی وو، له غنمو څخه خالي وو، هغه وږي چې سرونه یې ښکته کړي وو، له غنمو څخه ډک وو؛ له ځانه سره مې وویل ژوند په کښت کې هم هغه سرونه چې جګ وي په حقیقت کې خالي دي هدف: مغروره انسان همیشه پوچ مغزه وي، یوازې پر خپل عقل حساب کوي، پوهان همېشه حلیم او دروند خصلته وي. ښاخ چې له مېوې ډک شي، سر کښته کوي، خو خالي ښاخونه له آسمان سره خبرې کوي.

Newspaper
# Marif
Weekly

**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**کتنپلاوي:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
معراج «زماني»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوری»
**ډیزاینر :** محمد قسیم «نادم»

**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 278,2024

## دیدار سرپرست وزارت معارف از شماری نهاد های تعلیمی درکابل

الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف وهیئت معیتی شان به هدف ارزیابی وضعیت تعلیمی نهاد های تعلیمی ولسوالی بگرامی ولایت کابل، از شماری مراکز تعلیمی امارتی و خصوصی در مربوطات آن ولسوالی به صورت جداگانه دیدن نمود.

سرپرست وزارت معارف در جریان دیدار از دارالعلوم افغان، لیسه های حسن خیل و خصوصی اشراق، از سوی مسئولین، معلمین و شاگردان آن مراکز مورد استقبال گرم قرار گرفت.

در این دیدار سرپرست وزارت معارف به بهبود وضعیت تعلیمی و بلند بردن کیفیت درسی تاکید کرده و به مسئولین مراکز مذکور مشوره های لازم ارائه نمود.

## رئیس اسبق ریاست های شهادتنامه ها و شورای علمی وزارت معارف با سرپرست این وزارت دیدار کرد



شاه محمود منگل رئیس سابق ریاست های شهادتنامه ها و شورای علمی وزارت معارف که به تازه گی به کشور برگشته است با الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف دیدار صفحه۲

**جامعه وقتی به سعادت میرسد که مطالعه کار روزانه اش باشد.**

## د بلخ ولایت په ښوونځیو کې د لسو پروژو عملي چارې پیل شوې

بلخ ولایت کې د ۴۷،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د لسو پروژو عملي چارې د یو لړ مراسمو په ترځ کې، د پوهنې ریاست مشرتابه، د سیمه ییزو ادارو د مسئولینو، علماوو او قومي مخورو په حضور کې پیل شوې.

په یادو پروژو کې د دغه ولایت د نهرشاهي، دهدادي، بلخ، چهاربولک، چمتال او زارې ولسوالیو په ښوونځیو کې احاطوي دېوالونه، د څښاک پاکو اوبو څاګانې، د لمریزې برېښنا د سیستم فعالول او نور ملحقات شامل دي، چې لګښت یې د پوهنې په برخه کې د یو همکار بنسټ له خوا ورکړل شوی دی.

د بلخ ولایت پوهنې رئیس الحاج مولوي عبدالجلیل شهیدخېل د یادو پروژو پلي کېدل مهم او حیاتي وبلل.

## کندز ولایت کې د یو شمېر ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ علمي سیالۍ ترسره شوې

د کندز ولایت مرکز اړوند د ۲۰بابه ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ "د حق المبین کتاب " تر عنوان لاندې علمي سیالۍ ترسره شوې.



د کندز ولایت د پوهنې رئیس مولوي حزب الله مبشرپه داسې حال کې چې د یاد ولایت د بشري سرچینو رئیس ګلبدین حنفي او یو شمېر علماوو هم حضور درلود، د دغو سیالیو د ترسره کېدو څارنه وکړه او په خپلو خبرو کې یې وویل: له دې سیالیو څخه یې اساسي موخه، د زده کوونکو د علمي کچې لوړول دي.

همدارنګه نوموړي له مسئولینو وغوښتل چې د سیالیو دغه لړۍ د یاد ولایت نورو ولسوالیو ته هم وغځوي.

د مسئولینو په وینا، په یادو سیالیو کې ۱۵۰۰ تنو زده کوونکو برخه اخیستې وه او د ګډون والو د هڅونې په موخه به تر لسمې درجې پورې غوره زده کوونکو ته جایزې، ډالۍ او ستاینلیکونه ورکړل شي.

## کابل ښار کې د یو شمېر ښوونځیو د بیارغونې چارې پیل شوې



کابل ښار کې د یو شمېر ښوونځیو د بیارغونې او ترمیم چارې رسماً پیل شوې.


په یادو پروژو کې د استنادي او احاطوي دېوالونو جوړول، د روغتیا ساتنې بنسټونو رغول، د پاکو اوبو د سیستم غځول او نور اړین ملحقات شامل دي چې د دریچه نور، آصف مایل، شهید یوسف او ریشخور په لومړنیو ښوونځیو کې پلي کېږي.

د پروژو ټولیز لګښت ۱۴ میلیونه ۵۷۰ زره ۷۶۵ افغانۍ اټکل شوی، چې د پوهنې د یو ملاتړ بنسټ له خوا ورکول کېږي.

د پوهنې وزارت مشرتابه له پوهنیز نظام سره د مرسته کوونکو بنسټونو د دوامداره همکارۍ او د هېواد د پوهنې د مینه والو له ملاتړ څخه مننه او قدرداني کوي.

## د بامیان ولایت یو شمېر پوځي منسوبینو لپاره د سواد زده کړې ټولګي جوړ شول

د بامیان ولایت پوهنې ریاست، د هوایي ډګر قطعې اړوندو ۴۵ تنو پوځي منسوبینو لپاره، د قرآن کریم او د سواد زده کړې ټولګي جوړ او د یو لړ مراسمو په ترځ کې پرانیستل شول.



د یاد ولایت پوهنې ریاست مسئولینو دغه اقدام زموږ د هېواد والو د سواد زده کړې لپاره مهم ګام وباله د مسئولینو په وینا د پوهنې وزارت تل هڅه کوي، تر څو د بېلابېلو ولایتونو د هغو وګړو لپاره چې د لیک لوست له نعمت څخه بې برخې دي، د سواد زده کړې آسانتیاوې برابرې کړي.

په ورته وخت کې د بامیان د هوایي ډګر د پوځي قطعاتو مسئولینو د پوهنې له ریاست څخه د منندې په ترځ کې، په یاد هوایي ډګر کې د مؤظفې قطعې لپاره د قرآن کریم د درسونو او د سواد زده کړې ټولګیو پرانیستل خورا مهم وبلل. او د بامیان له پوهنې ریاست څخه یې وغوښتل چې دا پروګرامونه لاپسې پراخ کړي.

## دیدار سرپرست اداره ملی امتحانات با سرپرست وزارت معارف

شیخ عبدالباقی حقانی سرپرست اداره ملی امتحانات با الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف در محوریت فراهم آوری تسهیلات لازم و چگونگی اخذ امتحان کانکور، همکاری های متقابل فی مابین هردو نهاد یاد شده و سایر موضوعات مورد علاقه و مرتبط به معارف با هم بحث و تبادل نظر نمودند.

ابتداء رئیس ملی امتحانات در مورد ترتیب سئوالات و نحوه اخذ امتحان کانکور سال ۱۴۰۳ هـ ش با سرپرست وزارت معارف صحبت نموده و خاطر نشان ساخت که اداره مذکور حتی‌الامکان کوشش می نماید تا خدمات یک سان را در مرکز و ولایات برای متقاضیان و شاملان امتحان کانکور، فراهم نماید.

وی برای رهبری وزارت معارف از شفافیت، صحت و مصئونیت در تهیه سئوالات و پروسه انتقال آن به حوزه های اخذ امتحان و سایر موارد ذیدخل در پیوند به امتحان کانکور، اطمینان داده گفت در این رابطه قبلاً صفحه۲

**ښوونه او روزنه د بشري ټولنې د پرمختګ یوازینۍ اساسي لار ده.**